مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۶/۰۷/۲۱

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو اوولسمه برخه)

### عبدالرحیم قتیل ضیایي

د عزیز الله قتیل زوی ٫ د عبدالرزاق ضیایي ناسکه ورور٫ په ۱۹۱۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۸ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ او د خپلو لوړو زده کړو لپاره فرانسې ته لاړ. په ۱۹۴۸ز کال کې کابل ته راستون سو او د کابل په پوهنتون کې د تأریخ استاد سو. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د لوړو زده کړو د وزارت کارمند. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د کابل لرغونتون/موزیم مدیر. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د تأریخي ټولنې مرستیال رئیس او له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۵ز کال پورې ددې ټولنې رئیس. د کابل او آریانا د مجلو په ګډون ئې په ګڼ شمېرو نورو مجلو کې قلمي همکاري کړې ده. مېرمن ئې فرانسوۍ وه. په ۱۹۷۶ز کال کې وفات سو.

### عبدالرزاق ضیایي

د سردار عزیز الله قتیل زوی٫او د سردار نصرالله خان لمسی٫ په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. لیسانس ئې په سیاسي علومو کې اخیستی دئ. له ۱۹۳۴ تر ۱۹۳۵ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د تقنین د مدیریت غړی. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۴۱ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي ریاست د ختیځ د اړیکو د څانګې مرستیال مدیر. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۸ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د پرسونل مدیر. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۶۲ز کال پورې په نیویورک کې افغان قنسل. په نیویورک کې د افغان سوداګرۍ کمپنۍ بنسټ ایښودونکی او مشر. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د پروتوکول مشر. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت عمومي اداري مدیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په تهران کې د افغان شاهي سفارت قنسل وزیر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت اداري مرستیال وزیر. په ۱۹۷۰ز کال کې د پراګ سفیر. په ۱۹۷۱ز کال کې په پراګ کې وفات سو. له ملیحې ګل جان سره ئې واده کړی وو او څلور بچیان ئې ول: سپین یار؛ زرمینه؛ روښانه؛ او روښانه

### ډاکټر اسدالله ضیایي

٫د امیر عبدالرحمن خان لمسی٫ د محمدکریم زوی، په ۱۹۴۵زکال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې د حبیبیې په لیسې کې کړې دي او بیا ئې خپل د طب M.D. ډاکټرۍ سند د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړی دئ. د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځېر و لولۍ

کابل پوهنتون د پتالوژۍ د دیپارتمنت ډاکټر، او ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د طب د پوهنځي تدریسي غړی. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل د نور د سترګو د روغتون غړی. د عبدالعزیز ‌له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د مزار شریف والي‌ له لور زرمینې سره ئـې واده کړی دئ او د مریم او لیلا په نومونو دوه لونې او د احمد ولي او حبیب الله په نومونو دوه زامن لري. اوس له خپلې کورنۍ سره د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## مـحـمـد انور ضیایي

له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د مالیې د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د مالیې وزیر.

## شفیقه ضیایي

مـحـمـدزۍ ده؛ په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. د پوهاند عبدالعظیم ضیایي مـېـرمن. د ملالۍ په ښوونځي او د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې ئـې زده کړې کړي دي. په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې خپله ماسټري په ریاضیاتو کې د کولمبیا له پوهنتون څخه ترلاسه کړه. د مـېـرمنو د ښوونځیو د دیپارتمنت ښوونکې او مفـتـشه. د ملالۍ د نجونو د لیسې ښوونکې. د زرغونې د نجونو د لیسې مدیره. د ښوونې او روزنې د انستیتیوت غړې. د ثانوي تدریساتو د ریاست د مـېـرمنو د برخې مرستیاله رئـیسه. د تألیف او ترجمې د ریاست رئـیسه. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د مشخص وزارت له لرلو پرته د کابینې غړې وزیره. د پلان د وزارت سلاکاره. د ۱۹۷۳ز کال د جولای په میاشت کې ئـې تقاعد وکړ. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## ډاکټر احمد قلي ضیاء زاده

‌د غوایي له پاڅون وروسته د کانونو او صنایعو په وزارت کې د کانونو رئـیس.

## فیض احمد زکریا

د فیض مـحـمـد زکریا زوی، په ۱۹۲۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۲ز کال کې د ‹تورک ماریف سیمی یاتي کالج› [1]ته لاړ او په ۱۹۴۲ ‌؟- ژ‌ کال کې په تولنیزو علومو او فلسفې کې د لیسانس [2] په درجې فارغ سو. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۵ز کال پورې د فرانسې د لوزان پوهنتون ته لاړ او سرتیفیکیټ [3] ئـې ترلاسه کړ. د لبنان په بیروت کې د سنت جوزف پوهنتون ته لاړ او ماسټري ئـې په حقوقو کې ترلاسه کړه. تر ۱۹۵۳ز کال پورې ئـې د پاریس د سوربون په پوهنتون کې په حقوقو کې د خپلې دکتورا لپاره ئـې تحصیلات وکړل. د باندنیو چارو د وزارت د قضایي چارو د څـېـړنو د دیپارتمنت غړی. د باندنیو چارو د وزارت د قـنـسـلي څانګې مشر. د باندنیو چارو د وزارت د اقتصادي چارو د مدیریت مشر. په لندن کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. د ملګرو ملتونو د قیمومیت کمـېـټې ته پلاوی. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام UNDP د انسجام د پروژې افسر [4]. په فرانسوی، انګلیسي او دري ژبو د یو شمـېـر آثارو مؤلف. له میمونې عزیزي سره ئـې واده کړی دی او دري بچیان لري.

[1] -Turk Ma’arif Cemiyeti College
[2] -Baccalaureate
[3] -Certificate
[4] -Project Officer, Coordinating UN Development Program


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## سردار فیض محمد زکریا

د «**فیضي کابلي**» په نوم شهرت لري. د سردار ګل محمد خان زوی په ۱۸۹۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ (سردار ګل محمد : د تاج محمد زوی؛ تاج محمد د سردار زکریا خان زوی.) سردار فیض محمد زکریا په کورکې او د حبیبې په لیسې کې زده کړې وکړې. په ۱۹۲۱ز کال کې اروپا اوامریکا ته د افغان مأموریت مرستیال سلاکار. په ۱۹۲۲ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت سلاکار. په ۱۹۲۴ز کال کې د معارف مرستیال وزیر. له ۱۹۲۵ تر ۱۹۲۷ز کال پورې د معارف وزیر. د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر په میاشت کې د باندنیو چارو وزیر. د ۱۹۳۵ز کال د دسمبر په میاشت کې ئې اروپا ته سفر وکړ. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۴۸ د انقرې سفیر. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د لندن سفیر. په ۱۹۵۰ز کال کې د معارف وزیر. په ۱۹۵۵ز کال کې د سعودي عربستان سفیر. په ۱۹۶۰ز کال کې ئې استعفی وکړه او د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او همدلته په ۱۹۷۹ز کال کې وفات سو. نوموړی شاعر او لیکوال هم وو.

## سردار شیر احمد زکریا

سردار؛ د زکریا د ټبر له محمدزیو څخه دئ. په ۱۸۸۵ز کال کې زېږېدلی دئ. دی د سردار فتح محمد خان زوی دئ. په ۱۹۱۷ز کال کې «ایشک اقاسي نظامي». په ۱۹۲۰ز کال کې د اندخوی حاکم. د ۱۹۲۱ز کال د دسمبر په میاشت کې ایتالیا ته افغان دیپلوماتیک استازی. په ۱۹۲۲ز کال کې روم کې افغان دیپلوماتیک استازی. په ۱۹۲۲ز کال کې له دې دندې خلاص سو خو دی د ۱۹۲۳ز کال تر دوبې پورې په اروپا کې پاتې سو او په دوبې کې بېرته افغانستان ته راستون سو. د باندنیو چارو د وزارت مرستیال او په ۱۹۲۴ز کال کې اروپا ته د محمود طرزي د سفر پر مهال د باندنیو چارو د وزارت سرپرست. په ۱۹۲۴ز کال کې د « ملي شورى» رئیس. د ۱۹۲۸ز کال د نوامبر په میاشت کې اروپا ته د امیر امان الله خان د سفر ملګری. په ۱۹۲۸ز کال کې د صدر اعظم مقام ته وګومارل سو خو د کابینې په جوړولو کې پاتې راغی. د ملکي مأمورینو د تفتیش مشر. د ۱۹۲۸ز کال د نوامبر په میاشت کې ئې جلال آباد د امیر امان الله خان لپاره نیولی وو. دهٔ ته د شینوارو د شخړې په هوارئ کې بشپړ اختیار او واک ورکړل سو خو ناکامه وخوت او د ۱۹۲۸ز کال د دسمبر په میاشت کې بېرته کابل ته راستون سو. د ۱۹۲۹ز کال د دسمبر په میاشت کې د نادر شاه خصوصي مشاور. د ۱۹۳۰ز کال د دسمبر په میاشت کې د تهران سفیر. د ۱۹۳۵ز کال د اکتوبر په میاشت کې ئې د پخواني پادشاه محمد ظاهر څلورمه خور خېل ورارهٔ محمد عمر ته کوژده کړه. د محمدزیانو د زکریا د څانګې د شیرزاد د ښاخ مشر. د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې په کابل کې وفات سو. ددهٔ زوی غلام محمد شیرزاد له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د روم سفیر او له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د پاریس سفیر؛ او په ۱۹۵۷ز کال کې د سوداګریزو چارو وزیر وو.

## وزیر احمد زیرک

د حفیظ الله امین یاور. د ۱۹۸۰ز کال د جون په میاشت کې اعدام سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ډاکټر رحمت جان زيرکيار

ښوونکی؛ زده کړې : فرانکفورت جرمني د ګويته پوهنتون ۱۹۷۱ز کال. ماستري ۱۹۷۴؛ دکتورا ۱۹۷۸ په سياسي علومو کې د برلين له فري يونيورسټي څخه. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د فري يونيورسټي د سياسي علومو د ديپارټمنټ مدرس. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل پوهنتون د څېړنو مرکز کې. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل پوهنتون د سياسي علومو د پوهنځي استاد. په پښتو او جرمني ژبو د څو آثارو مؤلف.

## هاجره زيری

د ښځو د ډيموکراټيک سازمان د مرکزي شورى غړې.

## انجنير پير محمد زيری

د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د انستيتيوت اسيستانت. په ۱۹۷۸ز کال کې د لوړ زده کړو د وزارت مرستيال وزير. په ۱۹۷۹ز کال کې د مخابراتو د وزارت مرستيال وزير. د (مرستيال صدر اعظم صالح محمد زيري ورور. له يوې انګليسي مېرمنې سره ئې واده کړی دئ.

## ډاکټر صالح محمد زيری

(د لوړو زده کړو د وزارت د مرستيال وزير انجنير پير محمد ورور) په ۱۹۳۷ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ، د طب د پوهنځي په اوو کالو کې اول نمره وو. په ۱۹۶۹ز کال کې ولسي جرګې ته له کندهاره کانديد وو خو په همدې مهال زنداني سو. د افغانستان د خلق ډيموکراټيک ګوند د مرکزي کميټې غړی. د ۱۹۷۸ز کال د مي په مياشت کې د کرنې وزير. د خلقي سازمانو د چارو مسؤول. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری د مياشتې تر يولسمې پورې ئې په مرکزي کمېټې کې خپل غړيتوب ته دوام ورکړ. د مرکزي کمېټې سکرتريت. د مرکزي کمېټې د رئيسه هيأت او د انقلابي شورى د رئيسه هيأت غړی. مرستيال صدر اعظم. د ۱۹۸۵ زکال تر دسمبر پورې د پلار وطني ملي جبهې رئيس.

## ډاکټر مجاور احمد زيار

د ننګرهار يو پښتون دئ چې د ۱۹۴۰ز کال په شاو خواوو کې زېږېدلی دئ. تحصيلات ئې د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کې کړي او خپله دکتورا ئې په ژب پوهنه کې له سويتزرلند څخه اخيستې ده. د امين له زندان څخه ئې شعرونه ليکلي دي چې د ۱۹۸۰ز کال د اپريل په شلمه په انيس کې خپارهٔ سول. د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو سرپرست رئيس. د ختيځ برلين په پوهنتون کې د پښتو ژبې پروفيسر. د ليکوالانو او شاعرانو د اتحاديې غړی. له مېرمن سکينې سره ئې وادهٔ کړی چې يوه ښوونکې ده.

## ذبيح الله زيارمل

(د عنايت الله رشيد او امين افغان پور ورور)، له يوې لوګرۍ کورنۍ څخه دئ. تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کورنيو چارو د وزارت رسمي مأمور. په ۱۹۷۸ز کال کې د ټولنيزو علومو د پوهنځي رئيس. يو پرچمی دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## جنرال خواجه عبدالاحمد زوري

په ۱۹۲۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۴ز کال کې د استانبول له پوځي اکاډیمی څخه فارغ او وروسته افغانستان ته راستون سوی دئ. ستاف آفیسر. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د عملیاتو رئیس؛ له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د دفاع د وزارت د تعلیم او تربیې او روزنې رئیس. په ۱۹۵۵ز کال کې د قرغې بولندوی او وریپسې د پکتیا بولندوی. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د عبدالمک عبدالرحیمزي په کودتا کې د ګډون په تور زنداني. په ۱۹۶۱ز کال کې متقاعد سو. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## ډاکټر محمد امین برین زوري

د خواجه محمد نعیم زوی، په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې د نجات له لیسې (چې اوس د اماني د لیسې په نوم یادېږي) فارغ سوی دئ. په کندز کې د سپین زر د شرکت ژباړونکی. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د افغان زیمنس د شرکت مأمور. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د عسکري د مکلفیت دوره. د کابل په پوهنتون کې ئې اقتصاد ولوست او له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د اقتصاد اسیستانت وو. د جرمني د بوخم له پوهنتون څخه ئې خپله دکتوار په اقتصاد کې اخیستې ده. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۴ز کال پورې ئې د پوهنیار رتبې ته ارتقاء وکړه. د ګڼ شمېر مقالاتو، لنډو داستانونو لیکوال او په اصلاح، انیس او ژوندن کې د ګڼ شمیر لیکنو ژباړونکی. د راډیو افغانستان انونسر او ژباړونکی. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## محمد نعیم زوري

د خواجه محمد سید زوی په ۱۹۰۷ز کال کې د کابل په «پای منار» کې زېږېدلی دئ. د ۱۹۲۰ز لسیزې په اوږدو کې حربي ښوونځي ته تللی دئ او په پای کې خپلې زده کړې ئې په مستقل ډول تر سره کړې. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۲ز کال پورې په کابل کې د پولیسو د اکاډیمی مدیر. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د کابل د پولیسو بولندوی. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د مزارشریف د پولیسو بولندوی. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پر ضد د ۱۹۵۰ز کال د مارچ د میاشتې د ۲۱ نېټې د نو روز د کودتا د رهبر په تور زنداني سو. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## ګل حسن زرمتی

(د غوایي له پاڅون وروسته) د حربي پوهنتون مشر.

## حبیب الله زرمتی

دی د ټانک هماغه پوځي افسر وو چې په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د داؤود په کودتا کې ګډون کړی وو او د کودتا یوازینی ګډون وال وو چې د کابل سینما ته د ټانک د غورځېدلو له کبله په دې پېښې کې ووژل سو.

## محمد عزیز زرمتی

د کورنیو چارو د وزارت د تشریفاتي ګارډ بولندوی. په ۱۹۷۹ز کال کې د بغلان بولندوی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نور بیا

# حکومتونه

## د افغانستان حکومتونه

## له ۱۹۱۹ تر ۱۹۷۸ز کال

### صدارت عظمی...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ